**<u>مطبوعاتي اعلامیه</u>**

## د اګست ۱۴مې، خپلواکۍ ورځې پیغام

## د پاکستان، بنګله دیش او افغانستان مسلمانان باید خلافت تاسیس کړي چې سره یو موټی شي او د امریکا - هند اتحاد له جدي ګواښ سره مقابله وکړي.




د ۱۹۴۷م کال د اګست په ۱۴مه او ۱۵مه د هند تر وېش وروسته په دغه هېواد کې پاتې شوي ملیونونه مسلمانان اوس تر هندویزیم «هندوتوا» فرقه‌ایي پوپیولېزم لاندې یوازې د دې لپاره سخت ځورول کېږي چې مودي ټاکنې وګټي. د پاکستان د واکمنانو په څېر د بنګله دیش واکمنان هم د هندو دولت پر وړاندې د زغم او تسلیمۍ پالیسي پر مخ وړي. د هند تر وېش وروسته د اسلامي امت یوه بله مظلومه برخه، د برما مسلمانان د بودایانو د سختو ظلمونو قرباني شول. پاکستان چې د «هندوتوا» هر یرغل ته غاښ ماتونکی ځواب ورکولی شي، له هند څخه د خبرو اترو غوښتنه کوي او هلته د کرېکټ ټیم استولو اعلان کوي. دا په داسې حال کې ده چې د ۲۰۱۹م کال په اګېسټ کې له هند سره د اشغال شوي کشمیر تر اجباري تړلو وروسته، هندو دولت زموږ شاوخوا لس زره مسلمانې خویندې وتښتولې. اوس چې امریکا د مودي له حکومت څخه هر اړخیز ملاتړ کوي؛ وسلې ورکوي او د سیمې ستراټېژیک لید ورته بدلوي؛ د سیمې مسلمانان د نبوت پر منهج خلافت له تاسیس پرته بله لار نه لري. له شک پرته، یوازې د خلافت بیا تاسیس د سیمې ټول سیاست بدلولی شي. له خلافت سره به یو ځل بیا د هند په نیمه وچه کې اسلام د بې سیاله واکمن په توګه راپورته شي؛ لکه په تېرو پېړیو کې د خلافت پر وخت چې و.

د امریکا – هند اړیکې د۲۰۰۰م کال په سپټمبر کې د کلینټن او واجپایي تر لیدنې وروسته ګرمې شوې. د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې بیا د ۲۰۰۵م کال په جولای کې د بوش- من موهن سېنګ په لیدنه کې د ملکي اټومي

ټرون پر وخت خپل اوج ته ورسېدې. دا اړيکې اوس د ۲۰۲۳م کال په جون کې د بايډن - مودي تر ليدنې وروسته پر هر اړخيزو ستراتيژيکو اړيکو بدلېږي. د دواړو هېوادونو ترمنځ اړيکې د جنګی بېړيو د ماشينونو، پوځي ډرون الوتکو، مصنوعي ځيرکتيا او نورو برخو کې همکارۍ او بېلابېلو امريکايي اکمالاتي ځنځيرونو پورې غزېدلې. له دې سره مودي وهڅول شو او  په هند او سيمه کې يې پر مسلمانانو بريدونه وکړل. امريکا هند ته خپله تر ټولو پرمختللې ټيکنالوژي ورکوي چې د چين او سيمې د مسلمانانو پر وړاندې يې د وسلې په توګه وکاروي. نن ورځ د امريکا لپاره تر ټولو لوی ګواښ چين دی؛ خو د سيمې مسلمانان د خلافت په بيا تاسيس سره د واشنګټن او نوي ډيلي خوب تبنتولی شي. دا د امريکا-هند د اتحاد د پلانونو د شنډولو يوازينۍ لار ده.

**اې د پاکستان وسله والو ځواکونو!** کله چې تاسو دا اجير واکمنان راوپرځوئ او د نبوت پر منهج خلافت بيا تاسيسولو لپاره بشپړ چمتو حزب التحرير ته نصرت ورکړئ، نو څه به پيښ شي!؟ د حزب التحرير امير، شيخ عطا بن خليل ابو الرشته به د دولتي قدرت ټول مظاهر په اغېزناکه توګه سره يو ځای کړي او ژر به افغانستان، منځنۍ اسيا او بنګله ديش د يوه واحد خلافت تر چتر لاندې سره يو ځای کړي. خلافت به د سيمې او له سيمې اخوا نورو اسلامي هيوادونو حکومتونه نسکور او د سياسي، اقتصادي او پوځي سرچينو په مرسته به يو داسې پياوړی دولت رامنځته کړي چې د اسلام د عظيم روحاني ځواک (د حق دين) په واسطه به لا پياوړی شي. خلافت به اوسنی استعماري نظم له منځه يوسي او دغه ظالم بشري جوړښت ته به د پای ټکی کيږدي. خلافت به له ځنډ پرته ټوله اسلامي نړۍ د خليفه تر واکمنۍ لاندې راولي او د الله سبحانه وتعالی په حکم به په اسلامي نړۍ کې په دومره چټکۍ خپور شي، چې د عربي او نا عربي هېوادونو واکمنان به ان له خپلو کڅوړو سره غرب ته د تښتېدلو وخت هم ونه لري.

د نبوت پر منهج خلافت به د فلسطين او کشمير د ازادۍ لپاره مبارزه وکړي. د نړۍ د مهمو سوداګريزو لارو؛ لکه سويس کانال، ملاکا تنګي او د هرمز تنګي کنټرول به بيرته ترلاسه کړي. اوسنی فاسد نړيوال نظم به خښ او نړۍ ته به نوی اسلامي نظم وړاندې کړي. خلافت به د نړۍ تر ټولو ستر؛ تر ټولو ډېرې سرچينو لرونکی او د نړۍ په کچه تر ټولو ستر نفوس لرونکی دولت وي. د خلافت وسله وال ځواکونه او مهمات به په نړۍ کې تر ټولو هېوادونو پياوړي وي او تر دې ټولو مهمه دا چې دوی به پر الله سبحانه وتعالی د ايمان پر ځواک سمبال وي. بې شکه دا هغه ځواک دی چې ټول دښمنان په ګونډو کوي.

**نو اې د پاکستان وسله والو ځواکونو!** همدا اوس راوړاندې شئ او په خپلو وينو، خولو او ځانونو د الله سبحانه و تعالی نصر ترلاسه کړئ. الله سبحانه و تعالی فرمايي:

**لِيُحِقَّ الْحَقَّ وَيُبْطِلَ الْبَاطِلَ وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُونَ**

**ژباړه:** «چې حق ثابت او باطل له منځه لاړ شي، که څه هم د مجرمانو دا نه خوښېږي.» [انفال:۸]

**د حزب التحرير-ولايه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۵ هـ. ق کال، د محرم ۲۷مه**

**۲۰۲۳م کال، دوشنبه، د اګېست۱۴مه**

**د صدور ګڼه: ۰۵/ ۱۴۴۵**